کله چې رمضان راشي، نو عمره وکړه، ځکه په رمضان کې عمره (په ثواب کې) د حج سره برابره ده

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم د انصارو یوې ښځې ته وفرمایل چې ابن عباس یې نوم واخیست او زما څخه یې نوم هېر شو: «څه شي منع کړې چې زمور سره حج وکړې؟» هغې وویل: مور یوازې دوه اوښان درلودل نو خاوند او زوي یې په یوه اوښ حج ته لاړل او بله اوښه یې مور ته پرېښوده چې اوبه پرې راوړو، هغه وفرمایل: «کله چې رمضان راشي، نو عمره وکړه، ځکه په رمضان کې عمره (په ثواب کې) د حج سره برابره ده».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له حجة الوداع څخه راستون شو نو یوې انصارې ښځې ته یې وویل چې حج یې نه و کړی: څه شي منع کړې چې مور سره حج وکړې؟ نو هغې عذر وړاندې کړ چې دوي دوه اوښان درلودل، نو خاوند او زوي یې په یوه باندې حج وکړ او بل یې له ځاه ځخه د اوبو راوښتلو لپاره پرېښود. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړ چې د رمضان په میاشت کې عمرې ثواب د حج له ثواب سره برابره دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/2753